# د پښتونولي د فن فلسفه

## The Philosophy of the art of pashtoonwali

**Barkat Shah Kakar***

## Abstect:

Pashtunwali has been perceived as one of the constant and inorganic constitution of the Pashtun tribes. In this paper the philosophy of the Art and Literature of Pashtunwali has been discussed and analyuzed. The writer has presented an account that, Pashtunwali as a socially constructed code of honor, subscribe to certain skills and arts and expression forms, while it negates most of the modern world fine arts and expression means and tools. The inherent contradiction within society to deal with art and literature is also discussed and narrated. The paper concludes that in the wake of the unprecedented changes on the global and regional leves, there is substantial space to regenerate a spirit within the culture to reclaim the spaces that are captured by the fanatics or the extrimists.

پښتونولي د روايتي او قبايلي پښتني ټولنې يو بشپړه ضابطه او ژوند دود دی چې د ژوند د ټولو اړخونو احاطه په کښې کيږي، ختيځ پوهان لکه جې ډبليو سپين ورته "The Ways of Pathans" د پښتنو دود درک" (1) ويلي دی. هم دغه ډول ختيځ پوه لټمز ريهزک ورته "Doing Pashto" "پښتو کول" (2) ويلي دي او همدغه ډول د اوسني دور بشر پوه چارلس لنډ هوم (3) د پښتنو دانشورانو او ليکوالانو لکه ارواښاد قيام الدين خادم (4) ، ارواښاد لوی استاد حبيبي (5) ،محمد ګل مومند (6) او همدغسې نورو ليکوالانو د روايتي پښتني ټولنيز ژوند بشپړه آئين ويلی دی.

کلتور چونکې يو تخليقی عمل دی. او د انسانانو د غوښتنو او اړتيا په نتيجه کښې بدليږي ، نو د کلتوري عمل په ترڅ د بدلون

* Barkat Shah Kakar is Lecturer at Pashto Department, University of Balochistan Quetta

امکانات مثبت او نېک مرغه ګڼل کېږي. خو دومره دی چې دغه بدلون باید د ټولني او وګړیو د ارزښتونو او اړتیاوو په نتیجه کښې وي او ددې بدلون ته جواز باید ټولنه ورکړي.

لکه څۀ ډول چې د نړۍ د نورو سیمو په کلتور او روایت کښې بدلون راځي هم دغه ډول د پښتون وطن په ټولنیز، سیاسي، معاشي او جغرافیائي حقیقتونو د بدلېدو سره کلتور هم حرکت کوي او خپل ارتقائي ګامونه اوچتوي، د کلتور حرکت او دخوځښت یون د هغه تودښت په سوب وي چې د کلتور د باطني روح سره یې سرښته مبنلي.

لکه چې کلتور د انساني اړتیا وو ښکارندوی وي، او کوم کلتور چې و هغه اړتیاوو، ستونزو او کشالو ته شا ور وګرزوي نو ډېر ژر وګړی د یوه بل کلتور څخه د هغه ضرورت د پوره کولو لپاره رجوع کوي. که څه هم دا یو نېک فال دی او د کلتورونو تر منځ د اتصال او تخلیقي تفاعل بېلا مه ګرزي خو بیا هم دکوم کلتور څخه چې اخیستنه کیږي دهغه د پر مختګ او خوزښت امکانات ذیاتیږي او کوم کلتور چې نېغ په نېغه دنورو کلتورونو پر تخلیقاتو ژوند کوي، دهغه تخلیقي فعالیت ته زیان رسیږي.

د پښتونولۍ روایت د ژوند په حقله ډېره مفصله او واضح فلسفه لري. خو د فن د فلسفې کړه وړه یې لاډېر څه واضح نۀ دي. پوهاند راج ولي شاه خټک په خپل اثر "پښتو ادبي تحریکونه" کښې لیکي:

"پښتانۀ ځان ته یو عجیبه غوندې تهذیبي مزاج لري، هغه دا چې ددوی ماقبل تاریخي تهذیبي ژوند په یو مخلوط معاشرت کښې نۀ دی پاتې شوی. دوی دژوند په ابتدا کښې خانه بدوش(Nomadic) وو خپل تهذیب یې ددنیا دنورو خلقو په (Isolation) کښې ساتلی دی. په خپلله بې ټکاوه ژوند کښې هم د پښتونولی روح ژوندی ساتلې ده ولې د نوروفنونو به پلو یې ډېره کمه توجه لرلې ده.هغه وجه ده چې دتهذیب فني اړخ په ریکارډ کښې نۀ دې راوستی شوی. د آزادۍ پسندی په وجه یې دڅۀ حکومت دسوري لاندې ژوند نۀ دی کړی بلکې دخپل جمهوریت پسنده فطرت له مخه یې په انتشار کښې هم د ثقافت بوټی زرغون کړی

دی. چې د ژوند فلسفه خو لري ولې د فن د فلسفې نه تر ډېره وخته بې خبره پاتې شوی دی" (7).

په لرغوني کلتور کښې تخليقي عمل څه ډول واقعه کيږي دا يو ډېر په زړه پورې سوال دی او بشپړه * (Ethenographic) څېړنې ته اړتيا لري. خو دلته زموږ و مختته داسوال ډېر مقدم دی چې پښتونولي د فن په اړه څۀ ډول فلسفه لري.

که د پښتون وطن په مځکني جوړښت او موقعيت باندې نظر واچول شي نو دا خبره يقيني کيږي چې پښتانه د ژوند په داسې کړاوونه، جنګونو او چپاوونو کښې راګير پاتي شوی دي چې د مځکې پر مخ يې بل هېڅ قوم نۀ دی ورسره مخامخ شوی.

ځکه نو د فن او هنر په حقله له موږ سره داسې ثقه حوالې نشته چې د آرټ، فن او هنر بېلا بېلي وسيلې ورڅخه جوتي شي.

که د پښتني قبايلي ټولني او دنړی دشرقي قبايلي ټولنود ادب او فن څېړنه او پر تليزه جاج واخيستل شي نو به داخبره سپينه شي چې د فن د ډولونو، نظرياتو او ټولنيز قبوليت په حقله ډېر ورتوالی وجود لري. که د منځني آسيا، منځني ختيځ او سهيلي آسيا د بېلا بېلو روايتی ټولنو د فن او ادب د رجحاناتو جاج واخيستل شي نو ورتوالی او توپير به يې حتماً د مځکني جوړښت او موقعيت، معاشي اوزارو او دروزګار وسيلې به پکښې ګډ متغيرات (Variables) څرګند شي. لکه څه ډول چې هره کوچياني او زرعي ټولنه د شفاهي روايت (Oral Tradition) سره تړلې وي. ځکه نوددغه له پلوه چې د فن او هنر په حقله چې کومې ټولنيزې رويې او رجحانات جوړيږي دهغوی ريښې نېغ په نېغه په روايت کښې وي.

د پښتني ټولنې د فن او ادب څېړنه هم دا حقيقت رابرڅېره کوي چې په خاص وختونو او ځايونو کښې کوچياني اوقبايلي ټولني د شاعری،

---

* ايتنا ګرافي د بشر پوهني يو ځانګړې څانګه ده چې د کلتورونو څېړنه په ساينسي ډول کوي او پلټونکي په هغه کلتور کښې له خلګو سره په عادي ژوند کښې ګډون کوي او تر ډېره وخته ورسره پاتيږي.

موسیقي، اولسي اتڼونو او شفاهي روایت لمن ټینګه ساتلې ده. خود فنون لطیفه لکه انځورګري(مصوري)، مجسمه تورول (سازي)، تهېټر او د فن نورې ذرایع دلته په پراخه سویه نۀ دي روزل شوي.

ډاکټر راج ولي شاه خټک به خپله یوه مقاله "پښتون کلچر" کښې په دې حقله لیکي. " په لطیف فنونوکښې یې تر ډېره دادب سره وابستګي لرلې ده او په کسبونو کښې یې یوائې کرکیله یا زراعت خپل کړی دي.ددې نه سېوا یې نور کسب اکثر نۀ دی خپل کړی. خو ټولو کسب ګرو، څوک چې د پښتون د مزاج نه واقف دي، او څوک چې فنونه نۀ تحلیق کوي، به هغوی کښې د پښتون کردار په نظرراځي" (8).

که د ادب دپایښت او خوزښت وعمل ته کتنه کوو نو هم داولسي ادب او دیواني ادب واضح بېش منځته راځي. چون که اولسي ادب د پښتونولۍ د شفاهي روایت په غېږ کښې پېدا شوی او روزل شوی دی ځکه نو ورځخه د پښتني کلتوربشپړه نمایندګي کوي او په ټولنیزه توګه ورته ډېر قبولیت او اهمیت حاصل دی. داولسي ادب دڅېړنې څخه دا حقیقت څرګندېږي چې په تاریخي توګه پښتني ټولنو د خپلو داخلي حسي، خیالي او تخلیقي ذوق او هنرد اظهار لپاره یوائي پر شفاهي روایت تکیه کړې ده.

وبل پلو ته د دیواني ادب ارتقا چې عموماً په مدني ټولنیو کښې کیږي دلته ډېره ورو شوې ده. چونکه ددې طرز ادبی صنفونه، دهغوی فني ترکیبونه، هیت او وړاندي کولو طرز یې دپښتونولۍ د روایت څخه بېخي بېل دی. دغه توپیر چې د وخت سره یو څه خو کم شوی دی خو اوس لاله منځه نۀ دی تللی.

ځکه خو دلته خوشحال خان خټك، رحمان بابا، پیر محمد کاکړ، کاظم خان شېدا او دغسې نورو کلاسیکي شاعرانو کلامونه او شاعري مونږ ته په لاس راځي خو د مائیکل اینجلو غوندې مجسمه تورونکي میتهوون غوندې موسیقاران یا بیا د شېکسپېر غوندې ډرامه نویسان او د افلاطون، سقراط او بقراط په ډول حکیمان او فلسوفان په نظر نۀ راځي.

د دې بنيـادي علـت بـه يقينـاً د پښـتني ټـولنې د ژونـد طـرز وي، ولـې چـې د تهـذيبونو او مـدنيتونو د مطـالعې څخـه دا خبـره جـوتيږي چـې د انسـانانو د ژونـد، دود او محيط (فطرت) تـر منځ بنيـادي تعلـق وي، پـه يخـه او خشـکه علاقـه يـو ډول کلتـور تخليـق شـي او پـه اوبـۀ ايـزه او تـره علاقـه او ميـدانونو کښـې بېـل کلتـور پـه وجـود کښـې راځـي، پښـتانۀ زيـاتره د کوچيـاني ژونـد سـابقه لـري، د کوچـاني ژونـد پـه وسـيله د کتـاب، قلـم او علـم و خـوا تـه يـې هـم هغـه ډول مخـه نـۀ وي کـړې لکـه چـې 2000 کالـه پخـوا پـه يونـان کښـې ورتـه شـوې وه او د هغـه علمـي او تهـذيبي روايـت څخـه د سـقراط، افلاطـون، ارسـطو اور نـورو فلسـفيان او علمـاور څخـه زېږېـدلي وو. د دې ډولـو حقـايقو تـر شـا د پښـتنو هغـه پلرنـی او لرغـونی ټـولنيز نظـام وي چــې رېښــې يــې پــه نارينــه تــوب Masculinity کښــې دي، او قبائليـت د انسـاني تهـذيب پـه هغـو اولسـو ډېـر ليکونـو کښـې دي چـې ورڅخـه يـورپ اولسـمې پېـړۍ پـه شـا و خـوا کښـې ورڅخـه را تېـر شـوی دی. لنـډه دا چـې دا فکـر، فـن، آرټ او هنـر ارتقـاء هغـه ډول نـۀ دي شـوي لکـه څـۀ ډول چـې د نـړۍ پـه نـورو علاقـو کښـې شـوې ده، د پښـتني ټـولې فکـري ارتقـاء پـه درېـدلو کښـې خـارجي او بـاطني عناصـر پـه بشـپړه توګـه شـتون لـري، د يـورپي شـکېلاک ګـرۍ پـه تـرخ کښـې د پښـتون وطـن تقسـيم او بيـا د هنـد د وېـش وورسـته د پښـتنو انتظـامي تقسـيم د دې سياسـي او قـامي قـوت تـر ډېـره حـده پـورې کمـزوری کـړ، هلتـه پـه فاټـا کښـې د انګرېـزي اسـتعمار د دور اسـتعماري قـانون FCR تـه دوام ورکـړل شـو چـې پـه کُلـي توګـه تـر 2006ء پـورې يـې دوام و درلـود، پـر دې برسـېره د څلـورو لسـيزو څخـه را پـه سـر کـورني او بهرنـي جنګونـو د ټـولنې د فکـري عمـل او تهـذيبي ارتقاء په شا شمېرلې ده.

څکـه نـو نـن هـم پښـتانۀ د پخـوا پـه شـان د خپـل قبيلـوي نظـام او شـفاهي روايـت پـه غېـږ کښـې ژونـد کـوي. د شـفاهي روايـت سـره تړلـې ټـولې معاشـرې يـو ډول علمـي، فنـي او هنـري خصوصـيات لـري، لکـه څـۀ ډول چـې د عربـو پـه کلاسـيکي دورې کښـې د امـرالقيس، ابـو نـواس او نـورو لويـو شـاعرانو پـه سـترګو راځـي هـم دغـه ډول پـه پښـتني ټولنـه کښـې د سـتر خوشـحال خـان

بابا ، حضرت رحمان بابا ، حمید بابا ، کاظم خان شیدا او هم دغه ډول نور ډېر نامتو شاعران په نظر راځي، کونتهشن ویژرل د عربو یوازې و شاعري ته پامېدل د فطرت (Nature) لامل ګڼي، هغه د دې علت دا ښيي چې د عربو پر مځکه داسې کاڼي، ډبرې یا پرښې نشته چې ورځخه مجسمې وتوړل شي خو دلته بنیادي خبره بیا هم د پښتنو او عربو هغه ژوند دود او د ژوند لارې چارې دي چې ورځخه د دې ټوله اجتماعي شعور او لاشعور تخلیق شوی دی، لکه څنګه ډول چې د عربو په قبایلي ټولنه کښې هر کس (نارینه او ښځینه) شاعر ګڼل کېدل او هم په پښتني ټولنه کښې ډیري زنانه في البدیع شاعراني پاتې شوې دي.

دلته بیا هم په پښتني ټولنه کښې د باقاعده او نوې شاعري په فورمونو کښې چې کومه شاعري شوې ده هغه په اولسي سویه دومره نه ده معروفه شوې. پرته د رحمان بابا زیاتره ټولنه اوس هم د پښتو د کلاسیکي او اوسني جدید شاعرانو څخه نابلده ده بله لادا چې په قبایلي پښتني ټولنه کښې و شاعر ته په ښه سترګه نه کتل کیږي، د دې لامل بېلا بېل کېدای شي. خو زما په نزد یې دا علت نشي کېدای چې ټولنه د شاعرۍ یا نظمیه روایت څخه نابلده ده او دوګړو زوق دډېرواني شاعرۍ په مقابل کښې کم دی.

شفاهي روایت او اولسي شاعري چې په عام پښتني فرد کښې کوم ذوق تخلیق کړی دی چې ورته د وډزورتهـ (Cultivation of Taste) وایي هغه شاید په ډېري ښهري ټولنه کښې هم د وګړو سره نه وي. نو دلته بنیادي لاملونه د دا مخې ته راځي اول دا چې په پښتني ټولنه کښې د شاعر او غیر شاعر تفریق هغه ډول نشته لکه څنګه ډول چې په نورو ټولنو کښې راځي، د پښتني نکلونو هر کردار شاعر دی ځکه هغه د موقعې په مناسبت سره د نکل ناره کوي، په بلوڅي اولسي روایت کښې زیاتره شاعران معلوم دي لکه بیبرګ، سمیك، چاکر، شاه مرید او نور خو دلته په پښتني روایت کښې مونږ ته هر فرد شاعر په نظر راځي او شاعري هم د تخاطب او مخاطبې په انداز کښې وي، دلته د شعر فورم یا قالب دومره مهم نه وي لکه چې په هغه کښې حاضر دماغي او پیغام چې نغښتی وي.

اولسي شاعري زياتره صنفونه په لنډ بحر او لړ مصرعو کښې وي، کاکړۍ غاړې، د اتڼ نارې، ټپې، چاربيتې، ماتې پخوانۍ غاړې او نور ډېر صنفونه شته چې د مصرعو په لحاظ کم دي خو د معنويت له لحاظه ډېر ځانګړي او په زړۀ پورې دي.

اولسي بدله او غزل په ډېرو حوالو سره ورته دي خو بيا هم بدلې ويل خصوصاً د بنډار اولسي روايت داسې پاتې شوی دی او د اولس له خوا ډېره زياته پاملرنه ور اوښتې ده. ارواښاد محمد رسول فريادي په خپله يوه مرکه کښې د دې خبرې غبرګون کړی ؤ چې د ګلستان په مېله کښې چې کوم بنډار کېدی په هغه کښې ګډون کوونکي ټول وګړي به د شاعرانو او غزلچيانو د ليدلو په ارمان وو.

زما په نزد د شاعري او ليك روايت داسې دی چې ورسره زياتره پښتني ټولنه نابلده دي، په باقاعده ديواني شاعري کښې چونکې ژبه استعارې، تشبيهات او د کلام انداز بېل وي ځکه روايت ورسره بلد نۀ وي، که د پښتو ديواني شاعري د فن او فکر څېړنه وشي نو دا خبره څرګنديږي چې د ژبې عروضي نظام په عربي کښې دی او شعري روايت يې د فارسي ژبې څخه را اخستی دي، په خپله فارسي ژبه د عروضو په لحاظ په عربي ژبه تکيه کوي، بله خبره دا هم ده چې د فارسي شاعري روزنه په دربارونو کښې او ښارونو کښې شوې ده.

د ښار او دربار د ژبې تصورات، موضوعات او معروض سره بېل دي. په اولسي او شفاهي ادب کښې چې کوم شعري اصناف وجود لري هغه په هر لحاظ د عروضو پوره خيزي خو دا بېله خبره ده چې د دې اصنافو تخليق کاران د عروضو په بنيادي مبآحثو نۀ دی خبر، ټي ايس ايليټ په خپل يوه مضمون کښې د دې تضاد ذکر داسې کړی دی.

د يوناني او لاطيني شاعري په حقله چې کومې عروضي څېړنې شوې دي هغه په داسې مهال کښې منځ ته راغلې چې دغه شاعري په بشپړه توګه ليکل شوې وه" (۹)

د شــاعري وســيله چــون احســان ،خيــال او جذبــه وي او دا د ټولــو انســانانو ســره ګــډ وصــفونه وي، ځکــه پــه ټولــه نــړۍ کښــې انســانان د شــعر آرټ او ميوزك څخه يوورل نهم ادراك او خوند اخلي.

پــه هــم دغــه مضــمون کښــې ټــي ايــس ايليــټ مختــه ليکي چې د عروضــي نظــام پــه پــام کښــې نيولــو څخــه د شــعر صــداقت، شــعريت او اورجنلټــي زياتــه متاثره کيږي.

د پښــتو ديــواني شــاعري و ارتقــائي يــون تــه کــه وکتــل شــي نــو دا خبــره څرګنــديږي چې د دې ژبــې او تــاريخ د ســرکار او دربــار ســر پــر ســتي هيڅکلــه نــۀ مينــدلې. کــه څــۀ هــم احمــد شــاه بابــا او د هغــۀ ځــوی تيمــور شــاه نومــوتي شــاعران دي خــو د درانــي ســلطنت پــه دربــار کښــې پښــتو بيــا هــم ځــای نــۀ ومونــد ، د ډاکتــر طــارق رحمــان پــه وينــا چــې د پښــتو يــوازې د شــېر شــاه سوري په دربار کښې ځاى ميندلى ؤ.

لــه دې وروســته مــونږ وينــو چــې د پښــتو ژبــې او شــعر ديــواني روايــت د جومــاتو او خانقــاوو څخــه را پېــل شــوی دی، د روښــاني نهضــت پېــل او د هغــۀ پــه ضــد را پاريــدلي اخــون درويــزه او پيــر بابــا مريــدان پــه اصــل کښــې د مــذهبي مقاصــدو دپــاره د پښــتو ژبــې او ادب اســتعمالولو. بيــا لــه دې وروســته مــونږ وينــو چــې درس نظــامي چــې پــه اولســمې صــدۍ عيســوي کښــې قطــب الــدين سهالوي مرتب کړی ؤ هم د پښتو و لور ته را ښکېدلي دي.

لنډه دا چې پــه جومــاتونو کښــې چــې د پښــتو د ليــك لوســت انتظــام هــم ددريمــي درجــي ژبــې پــه هــيڅ شــوی دی، دلتــه لــومړۍ عربــي د هغــه وروســته فارســي کلاســيکي ادب او دهغــه دواړو د فهــم او ابــلاغ لپــاره د پښــتو ژبــاړه غــوره شــوې ده. خــو بيــا هــم مــونږ تــه د مــذهبي تعليمــي ادارو څخــه د پښــتو د ديــواني شــاعرانو يــو لويــه ډلــه پــه نظــر راځــي چــې تــر نــن ورځــې پــورې يــې دوام درلودلی دی.

پــه اولــس کښــې د ليــك لوســت شــرح عمومــاً کمــه دهــو پــه ليــك لوســت کوونکيــو کښــې هــم ډيــره کمــه شــرحه داســې ده چې پښــتو ژبــه ويــلاى يــا لــيکلاى شــي. ځکــه نــو دلتــه هــم دا خبــره جــوتيږي چــې د ديــواني شــاعرۍ او

پښتون شفاهي روایت تر منځ چې کوم واټن موجود ؤ هغه په هیڅ ګون ختم شوی نۀ دی، البت یو څۀ کم شوی ضرور دی.

د شاعرۍ پرته په پښتني ټولنه کښې د ساز او اواز په حقله هم داسې ټولنيزې رويې وجود لري چې موسيقي او موسيقار دواړه ورڅخه د ټولنيزې ډلې (Social Class) خلګ بلل کيږي. مېرمن مکو ليکا ښځرجي د خپلې پي ايچ ډي د تهېسس چې د (Pathan Unarmed) تر سر ليک لاندې چاپ ده دا خبره کوي چې، "په پښتني ټولني کښې د طبقاتو وېش او بېلتون د مځکې پر بنياد کيږي کوم خلګ چې په يوه کلي کښې مځکه نۀ لري هغه همسايه ګڼل کيږي ځکه نو همدغه همسايه چې مځکه نۀ لري و نورو هنرونو ته لاس اچوي." (10) چې په کښې د نجار، جت، ختګر او موسيقار په صورت کښې په نظر راځي".

د پښتني قبايلي ټولنيو دمطالعې څخه دا خبره جوتيږي چې په ډېرو قبايلو سيمو کښې ساز وهل، ډغول، بدلې او سندرې ويل عبث کار نۀ دی. اوس هم د جنوبي پښتونخوا په ډېرو کليوالو سيمو کښې د کلي او علاقې تمام اولس په لوړ کومي دغه بدلې، غزلې او نظمونه وايي او ورسره دريه او لګن هم ټکوي. په لورالائي کښې چرې چې چيغکه (Violon) ډېره مشهوره پاتې شوې ده، يو وخت هر کس د چيغکې په استعمال او د هغې سره د ترلې ادبي اصنافو سره شناخته وو، تر دا حده چې د دې سيمې ملکانو او خانانو به هم په خپله د چيغکې وهلو او ډغولو سره واقف ؤ. نو دلته دا خبره هم منځ ته راځي چې د پښتونولۍ د ټولنيز نظام فني رجحانات د قبيلو او سيمو سره هم تغير خوري. او دا خبره هم سپينيږي چې په ډېرو قبايلي سيمو کښې د هنر مند او هنر قدر شتون لري او هنرمند د ټيټي طبقې فرد نۀ ګڼل کيږي.

د پښتني ټولنې او کلچر تاريخي څېړنه دا خبره په ډاګه کوي چې دلته د اسلام د قبوليت وروسته د مجسمې تورنې او انځور ګرۍ (Portrait Painting) رجحان نۀ دی پاتې شوی، که مونږ مجسمه سازي (Sculptuing) او انځورګري و تاريخ ته ځير شو نو دا خبره په ثبوت رسي چې دغه دواړه فنون د مذهبي عقائدو بادشاهي

(Monarchy) نظام پېلامه دي. د انځورګرۍ رواج د تاريخ څخه پېش دور کښې پاتې شوی دی او دا اټکل کېږي چې غالباً په مصر کښې د ديوتاګانو او باچاهانو انځورونه جوړېدل. "د مصر د فرعوني سلطنت معروفه پاچا "اخناتون" چې 1600 وړاندې تر مېلادي دورې تېر شوی دی. په دا وخت کښې د انځورګري فن ډېر پرمختګ کړی ؤ او همدغه ډول د مېلاد څخه 1000 کاله وړاندې په چائنا کښې د انځورګرۍ فن عام ؤ او مالداره خلګو به خپلې کورنۍ انځورونه په هنرمندانو جوړول. هم دغه ډول دمجسمه تورېنې هنر هم خالصه مذهبي پس منظر لري. په لرغوني يونان کښې مونږ ته تر ټولو د پام وړ مجسمه د يونيانو د "ديوتا ديوس" هغه په نظر راځي چې 435 کاله د ترميله دندې چې د اولمپيا پر ځای جګه درولې وه. له دې ځايه بيا دغه فن د مصر و ميدانونو ته راستون شو، بيا څۀ وخت چې سکندر اعظم د هند ولور ته راغلی نو ډېر ځيرك مجسمه تورونکي ورڅخه دلته پاتې شول، د هندو مذهب الهامي کتابونه (ويدونه) د آريايانو د شفاهي ادب هغه اوږدې رزميه سندري (Epic) کيسې دي چې له نن څخه 300 کاله پخوا هغوئ د هند پر کوشنۍ وچه دلاس لري کېدو په وخت کښې ريتلې او خوندي کړې دي"(10).

دغه هنرمندان يوناني باختريان (Greco-Bactrian) يادېږي، دغه يوناني باختريانو بيا د ګوتم بدهـ و مذهبي او عقيدوي فلسفې ته د کارټ له لارې پام راوګرځاوه، او دلته په لومړي ځل د ګوتم بدهـ لوېې او ورې مجسمې تورل پيل شوې، کوم باختري پاچا چې بدهـ مت قبول کړی ؤ. "مينادر" نومېد او د همدغه پاچا په امر ټيکسلا، پېښور اباد شوي دي، د ګندهارا تهذيب څښتن هم په دغه وخت کښې ابښودل شوي دي، ګندهارا چې بدهـ مت د خورولو مرکز وګرځېدو د سوات او کابل دريابونو څخه بيا د پوټهوار تر ميدانونو پورې پرته وه.

د ګندهارا تهذيب باقي مانده نخښې نښانې د دې خبرې سپيناوی کوي چې يو وخت د پښتنو په سيمه کښې خصوصاً د مجسمه سازي او سنګ تراشي هنر د فن جامه اغوستې وه، دغه سلسله تر 6 مېلادي صدۍ پورې دوام درلودلی دی.

د انځورګرۍ، مجسمه سازۍ او آرټ د نورو ډولونو په لاړ کښې تر ټولو بنيادي لامل د مذهبي فلسفې دی. لکه څنګه ډول چې د اسلام څخه وړاندې په مکه کښې د هرې قبيلې ديوتاګان د بتانو په بڼه وجود درلود د مسلم او غير مسلم تر منځ بنيادي توپير د وحدانيت او اکثريت ؤ ځکه نوبت مجسمه او انځور د اسلام د علمي روايت څخه ورټل شول او دغه ټول فنون عبث او لهو لعب او د عقيدې د زيان سوب وګڼل شول. ځکه دلته دغه علوم او فنون د کلچر برخه نهٔ شو پاتې. ډاکټر راج لي شاه خټک په ذکر شوې مقاله کښې مخ ته ليکي، "به آرت کشي د مصورۍ نمونې ځکه نهٔ پاتيږي چې، چې اسلام ددې حکم نهٔ ورکوي. ږلي د ګندهارا په تهذيب کښی په سنګ تراشي کښې هغه پايداري ښکاره په نظر راځي کړمه چې د پښتنو خاصه ده" (11) .

## پايله:

د پښتونولي د فن او آرټ و تصور ته که پام وګرځول شي نو دا خبره سپينيږي چې دلته آرټ د مارکيټ او تجارت بڼه نهٔ ده خپله کړې. د فنون لطيفه اوادب په بېلا بېلو برخو کښې دلته يوازې اولسي شاعري داسې ده چې په ټولنيزه سويه ورته قبوليت حاصل دی. د انځورګرۍ او مجسمه سازۍ د مذهبي بنديزونو په سوب پرمختګ و نهٔ کړ او تر اوسه پورې زياتره پښتني قبيلې او وګړي مجسمه سازي او انځورګري د بت پرستي او شرك سره تړي.

په افغانستان کښې چې د بودا لرغونې مجسمه په بارودو والوزول شوه نو د پښتني سيمې څخه هيڅ ډول قابل غور خواشيني څرګنده نهٔ شوه. چې پر دې خبره دلالت کوي چې پښتنو ته د دغو تاريخي مجسمو د تهذيبي يا فني ارزښت هيڅ درک نهٔ ؤ.

د شاعرۍ په حقله ټولنې خپل اظهاري فورمونه او صنفونه وضع کړي دي. دغه صنفونه د ژوند سره ډېر جوخت او مبنتي دي او ور په کښې تجربه او فلسفيانه خيالات او تصورات ډېر کم په نظر راځي.

ديواني شاعري که څۀ هم تر پخوا ډېره شوې ده خو په زياترو پښتني سيمو کښې د شاعري روايت او نويو شاعرانو فورمونو او رسمي او عروضي شاعرانه پيمانو ته هغه ډول قبوليت نۀ دی ور په برخه شوی. د دې بنيادي لامل په پښتنو کښې د خواندګۍ او پښتو ژبې د نۀ زده کولو کمبوت هم دی.

د ټي وي او ريډيو ډرامې له فلمونو البته تر ډېره حده خپل جواز ثابت کړ خو د معيار د ټيټوالي او غير اخلاقي موادو په سوب په پښتني ټولنه کښې هغه ډول ځای نۀ ونيو لکه چې په کار ؤ. د کيسه ايز ادب په حقله هم دا خبره په صداقت رسي چې د ليک و لوست د کمبوت د سرکاري ادارو له خوا مرسته او ډاډ نۀ درلو په سوب د نوي کيسه ايز ادب ځای هم هغه ډول په ټولنه کښې جوړ نۀ شو لکه څۀ ډول چې په کار ؤ. د فولکلوري شاعرانه او نثري اصنافو سره هم د شفاهي روايت د کمزورۍ په سوب د ژوند د بنيادي دهارې څخه وتلې دي. ځکه نو وګړي خپل کيسه ايز ضرورتونه د بېلا بېلو اردو، فارسي او انګلېسي فلمونو، ډرامو او ډائجسټونو په سوب پوره کوي.

د پښتنو سياسي، ادبي او تعليمي ادارد تراوسه لا په دې حقله هيڅ فکري يا عملي حرکت نۀ دی کړی چې د پښتو او پښتنو د فن او هنر رجحاناتو ته پام وکړي او په دې حقله داسي علمي او تحقيقي هڅې پيل کړي چې د فکري ترقۍ نوي اړخونه او د عمل نوي امکانات را وپلټي.

***

# حوالې

(1) W .Spain, James Pathans of the latter day, Oxford University Press Karachi, 1995 page.39

(2) Rzehek,Lutz, Doing Pashto, Afghan Analysis Network( AAN) ,Afghanistan , 2011, Website www.aan.org .com last accessed 12,12,2013

(3 Lindholm, Charles, article "Usefulness of the colonial ethnography" published in the book "The frontier Perspective" Publisher: Oxford Higher Education (June 1996)

4) خادم ، قيام الدين "پښتون ولي"پښتو ادبي غورځنګ کوټه ۲۰۰۲ ء مخ۱۶

5) حبيبي، عبدالحی"پښتو او پښتونواله" پښتو فرهنګي ټولنه قندهار۱۳۸۲ لمريز کال مخ ۱۰

6) مومند ،مخمد ګل "لنډ کې پښتو او پښتونواله" چاپ پښتو ټولنه کابل، کال۱۳۲۷ه، مخ ۱۹

7) خټک، راج ولي شاه ، پښتو ادبي تحريکونه ، چاپ چاري پښتو اکېډمي پېښور کال ۱۹۹۹، مخ ۳۱

8) خټک، ډاکټر راج ولي شاه، پشتون کلچر، "پښتو او پښتانه نن او سبا" د مقالو ټولګه، مرتبين اسير منګل، سليم بنګش، پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۱۲، مخ ۱۱۷

9) جالبي، جميل احمد ، ټي ايس ايليټ کې مضامين، سنګ ميل پبلکيشن لاهور، 2006ء، مخ119

(10) Banerjee, Mukulika, The Pathan Unarmed, Oxford University Press, Mexico, 1999, p.34)

11) خټک، ډاکټر راج ولي شاه، پشتون کلچر، "پښتو او پښتانه نن او سبا" د مقالو ټولګه، مرتبين اسير منګل، سليم بنګش، پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۱۲، مخ ۱۱۷